نیمه شه مې په پالنګ راغله دلبره

پري رویه عنبر بویه سمن بره

رنګینه جامې اغوستي زر نګارې

سره درسته تجلـي وه پا تر سره

په سپین والي د مخ سپین لکه مومنه

په تور والي د طرې لکه کافره

سر یې تور شیشه په لاس باده یې څښلې

له مستۍ په خپل ځان نه وه خبره

د پایلو او د ځړي يې شرنګهار شو

زه له خوبه را پرتاب شوم ډیر په ویره

ما وې ګوره ښاپیرۍ ده او که حوره

چه دا هسې شان په ما شوه برابره

تورې وروځې یې لینده باڼه یې غشي

غاښ یې در قیمت بها په لب شکره

په خندا خندا یې دا ووې و ما ته

چه و ما وته نظر کړه بې بصره

ته ما نه پیژني زه هغه خوبا یم

بله نشته په خوبۍ تر ما بهتره

عاشقان زما د خولې په کلي ډیر دي

بختور یې چه مې ونیوې په غوره

څو بوسې یې د لبانو و ما راکړې

حقیقي پیاله یې راکړله احمره

درسته شپه مو سره راز په پالنگ وکړ

د وصال خوښي يې لا نه وه تر سره

چه آواز د موءذن د آذان وشو

په سحر له مانه لاړه ناز پروره

چه په ډېر ارمان محبوبه ځيني درومي

کاشکې شپه د خوار عاشق وي بې سحره

چه له هسې محبوبا خوشحال جدا شو

د آتش لمبې يې درومي له بستره